**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي موسسو د څارنې لوی آمریت**

# د وړو تمویلونو مالي مؤسسو د تنظیم او څارنې مقرره

۱۴۴۵ ه ق

# د موضوعاتو لړلیک


لومړی څپرکی........................................ 1

عمومي حکمونه........................................ 1

بنسټ (مبنی): لومړی ماده ........................................ 1

موخې: دیمه ماده........................................ 1

د پلې کېدو ساحه: دریمه ماده........................................ 2

اصطلاحگانې: څلورمه ماده........................................ 2

دویم څپرکی........................................ 8

د وړو تمویلونو مالي مؤسسو ایکو سیستم ........................................ 8

د وړو تمویلونو سکتور ځواب ورکوونکې، شفاف او باثباته ایکوسیستم رامنځته کول، ساتل او څارنه: پنځمه ماده........................................ 8

دریم څپرکی........................................ 10

د جواز ورکولو شرطونه ........................................ 10

د غوښتنلیک فورم ډکول: شپږمه ماده........................................ 10

د تجارتي بانکوونو د وړو مالي تمویلونو بخش (دریچه): اوومه ماده ........................................ 11

د جواز ډول: اتمه ماده........................................ 11

د وړو تمویلونو مالي مؤسسې ونډه/سرمایه: نهمه ماده ........................................ 12

فیسونه: لسمه ماده........................................ 12

پالیسۍ گانې: یولسمه ماده ........................................ 13

بهرنیو اشخاصو ته د وړو تمویلونو مالي مؤسسې د جواز ورکولو شرطونه: دولسمه ماده........................................ 14

د مالکیت/ د جواز د امتیاز لېږد: دریالسمه ماده ........................................ 15

د شرکت لمنځه تلل ( انحلال): څوارلسمه ماده........................................ 16

د فعالیت جواز ځنډول: پنځلسمه ماده........................................ 17

د فعالیت جواز فسخه کول: شپاړسمه ماده ........................................ 19

د فعالیت جواز د فسخ کېدو په صورت کې د حسابونو تصفیه کول: اولسمه ماده ........................................ 20

د جواز ورکېدل یا سوزېدل: اتلسمه ماده........................................ 20

څلورم څپرکی........................................ 21

د وړو تمویلونو مالي مؤسسې تشکیلاتي جوړښت او کړنې........................................ 21

اداري جوړښت او د هغه شرایط: نولسمه ماده ........................................ 21

داخلي او بهرنۍ پلټنه: شلمه ماده ........................................ 29

د قوانینو او مقررو د رعایتولو آمر د مقررېدو شرایط: یویشتمه ماده........................................ 30

د معلوماتو محرمیت: دو ویشتمه ماده ........................................ 30



د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

مجازي کړنې: درویشتمه ماده ........ 31

منع شوې کړنې: څلور ویشتمه ماده ........ 31

پنځم څپرکی ........ 32

د تمویلونو او معاملو شرایط ........ 32

د تمویلونو د ورکولو شرایط: پنځه ویشتمه ماده ........ 32

د تمویل ورکونې محدودیت: شپږ ویشتمه ماده ........ 33

د تمویلونو د ډلبندۍ څرنګوالی: اوه ویشتمه ماده ........ 33

د تمویلونو ډلبندي: اته ویشتمه ماده ........ 34

بیا رغول شوي تمویلونه: نه ویشتمه ماده ........ 34

د زیان د جبرانولو لږ تر لږه شرایط: دېرشمه ماده ........ 35

د تمویلونو لمنځه وړل (حذفول): یو دېرشمه ماده ........ 36

د وړو تمویلونو تضمینونه: دو دېرشمه ماده ........ 36

د منلو وړ تضمینونه: درې دېرشمه ماده ........ 38

د شتمنیو بیاخلې ترلاسه کول (تصرف): څلور دېرشمه ماده ........ 39

د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د وړو تمویلونو مالي مؤسسې مسؤلیتونه: پنځه دېرشمه ماده 39

شپږم څپرکی ........ 40

د وړو تمویلونو مالي مؤسسو تمویلوونکي او اسانه کوونکي (تسهیلونکي) اداري ........ 40

مسؤلیتونه: شپږ دېرشمه ماده ........ 40

د کومکونو د ورکړې شرایط/مالي ملاتړ (مالي تمویلونه): اوه دېرشمه ماده ........ 41

څارنه او ارزونه: اته دېرشمه ماده ........ 42

اومه څپرکی ........ 42

متفرقه حکمونه ........ 42

څارنه: نه دېرشمه ماده ........ 42

راپور ورکول: څلویښتمه ماده ........ 43

تنفیذي اقدامات: یو څلویښتمه ماده ........ 45

د سوابقو ساتل: دوه څلویښتمه ماده ........ 46

د ټولنې دندې او مسؤلیتونه: درې څلویښتمه ماده ........ 46

داخلي کنټرول: څلور څلویښتمه ماده ........ 48

د اسنادو جعل او تزویر: پنځه څلویښتمه ماده ........ 48

پلي کول (انفاذ): شپږ څلویښتمه ماده ........ 49

# د ورو تمویلونو مالي مؤسسو د تنظیم او څارني مقرره

## لومړی څپرکی
## عمومي حکمونه

**<u>بنسټ (مبنی)</u>**
**لومړۍ ماده:**

دا مقرره د افغانستان بانک د قانون د ۷۰ یمې او ۱۲۳ مادې پر بنست ترتیب او وضع شوي ده.

**<u>موخې</u>**
**دویمه ماده:**

د دي مقرري عمومي موخي (اهداف) د ورو تمویلونو سکتور لپاره د ځواب ویوونکي، شفاف او باثباته چاپیریال (ایکو سیستم) د خلکو په ځانگړي توگه د بې وزلو اقتصادي هوساینې ترلاسه کولو لپاره، رامینځته کول، ساتل او څارل.

د عمومي موخو د ترلاسه کولو لپاره، فرعي موخې په لاندې ډول دي:

1- د ورو تمویلونو د سکتور د سیستماتیک پرمختگ او دوامدارې ودې لپاره د اړتیا وړ اداري جوړښت جوړول، ساتل او څارل.
2- د ورو تمویلونو مؤسسو او نورو اړوندو ادارو چې په یاد شوي سکتور کې فعالیت کوي د جواز صادرولو، نوي کولو، تعلیق او لغوه کولو لپاره د شرایطو ټاکل.
3- د دې مقرري عمومي اهدافو ته د رسیدو لپاره د ورو تمویلونو مؤسسو او د ورو تمویلونو

# مقررۀ تنظیم و نظارت مؤسسات تمویلات مالی خُرد

## فصل اول
## احکام عمومی

**<u>مبنی</u>**
**مادۀ اول:**

این مقررۀ بر مبنی مادۀ 70 و ماده 123 قانون د افغانستان بانک ترتیب و وضع گردیده است.

**<u>اهداف</u>**
**مادۀ دوم:**

هدف کُلی این مقرره ایجاد، حفظ و نظارت بر یک محیط (ایکو سیستم) پاسخگو، شفاف و پایدار برای بخش مالی خُرد بمنظور دستیابی به رفاه اقتصادی مردم به ویژه فقرا می باشد.
بمنظور تحقق هدف کُلی، اهداف فرعی قرار ذیل می باشد:

1- ایجاد، حفظ و نظارت بر ساختار اداری مورد نیاز جهت توسعه سیستماتیک و رشد پایدار بخش تمویلاتات مالی خُرد.
2- تعیین شرایط برای صدور، تمدید، تعلیق، فسخ جواز مؤسسات تمویلات مالی خُرد و سایر مؤسسات ذیربط که در سکتور متذکره فعالیت می نمایند.
3- تنظیم و نظارت فعالیت ها و عملکرد مؤسسه تمویلات مالی خُرد و سایر نهاد های تمویل کننده سکتور تمویلات مالی

Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
سال ۱۳۹۹
Da Afghanistan Bank

سکتور کې تمویل کوونکو ادارو فعالیتونو تنظیمول او څارل.

## د پلي کېدو ساحه

### درېیمه ماده:

1- دا مقرره په وړو تمویلونو (امانت نه اخیستونکو) مالي موسسو باندی او په نورو مؤسسو چې د وړو تمویلونو مالي مؤسسو د ملاتړ لپاره فعالیت کوي پلي کېږي.

2- دا مقرره په هغه بانکونو او د بهرنیو بانکونو چې غواړید وړو تمویلونو فعالیت د ځانګړي ځانګې له لاري ترسره کړي په یادي ځانګو باندی پلي کېږي.

## اصطلاحګانې

### څلورمه ماده:

په دې مقرره کې کارول شوې اصطلاحګانې لاندې ماناوې وړاندې کوي:

1- **تمویل:** پېرودونکو ته د اسلامي مالي خدمتونو د وړاندې کولو په معنا ده.

2- **واړه مالي تمویل:** هغه مالي خدمتونه چې د ځانګړو مالي مؤسسو لخوا افرادو او اشخاصو ډلو ته د سوداګرۍ یا نورو اقتصادي فعالیتونو، وړو تصدیو او نورو اقتصادي ارتیاو د پوره کولو لپاره ورکول کیږي او د تمویل اندازه به له یو میلیون افغانیو څخه زیاته نشي.

3- **ایکو سیستم:** هغه شبکه چې د ګډو او رابطه لرونکو عناصرو، په شمول د مؤسسو، د کارونې کلتور، د متقابل مختلف اړونده برخه اخیستوونکو په مختلفو رول درلودلو سره، قوانین او دودونه چې د دوی اړیکې تامینوي.

خُرد غرض نایل شدن به اهداف کُلی این مقرره.

## ساحه تطبیق

### مادهٔ سوم:

1- این مقرره بر مؤسسات تمویلات مالی خُرد (غیر سپرده‌گیر) و سایر نهاد های که بمنظور حمایه فعالیت تمویلات مالی خُرد طور مستقیم و یا خیر مستقیم فعالیت می نمایند، قابل تطبیق می باشد.

2- این مقرره بالای آنعده از بانکها تجارتی و فروع بانکهای خارجی که خواهاان ارائه خدمات تمویلات مالی خُرد از طریق دریچه خاص اند، در خصوص دریچه تمویلات مالی خُرد آنها، قال تطبیق است.

## اصطلاحات

### مادهٔ چهارم:

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

1- **تمویل:** به معنی اعطأ و ارائه خدمات مالی اسلامی به مشتریان می باشد.

2- **تمویل مالی خُرد:** عبارت از فراهم ساختن خدمات مالی که از طرف مؤسسات مالی مشخص به اشخاص و گروپ از اشخاص به هدف خلق آید بالوسیله کسب و کار ها یا سایر فعالیت های اقتصادی، تشبثات خُرد و رفع سایر نیازمندی های اقتصادی طوریکه مبلغ تمویل از یک میلیون افغانی بیشتر نباشد.

3- **ایکو سیستم:** شبکه مختلط از عناصر مرتبط و وابسته شامل مؤسسات، فرهنگ استفاده، اشخاص ذیدخل با نقش های مختلف متقابل وابسته،

د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

قوانین و عرف، آداب و رسوم که روابط آنها را تأمین می نماید.

4- **د امانت نه اخيستونکو ورو مالي تمويلونو مؤسسه :** هغه مالي مؤسسه چې د خپلو او بهرنيو مالي منابعيو څخه وګړو او ورو کاروبارونو ته (د يو مشخصي ګټې په ترلاسه کولو /د مؤسسي د لګښتونو په موخه) تمويل ورکوي.

4- **مؤسسه تمویلات مالی خُرد غیر سپرده‌گیر:** مؤسسات که با استفاده از منابع مالی داخلی و خارجی تمویلات مالی خُرد را (در بدل یک فیصدی/مبلغ مفاد به منظور تکافوی مصارف مؤسسه) برای کسب و کار ها و متشبثین خُرد اعطا می نمایند.

5- **د ورو تمويلونو مالي فعاليت سره بانک:** هغه بانکونه چې د افغانستان بانک ورته د ورو تمويلونو مالي برخې لپاره د فعاليت اجازه (د نه اعتراض سند) ورکړې وي او د نورو امانت نه اخيستونکو ورو تمويلونو مالي مؤسسو په څير فعاليت کوي.

5- **بانک با فعالیت تمویلات مالی خُرد:** عبارت از بانک های اند که سند عدم اعتراض/ اجازه فعالیت تمویلات مالی خُرد (قروض خُرد) را از د افغانستان بانک کسب نموده و همانند سایر مؤسسات تمویلات مالی خُرد غیر سپرده گیر فعالیت می نماید.

6- **د ورو تمويلونو کټګورۍ:**

- لومړۍ کټګوري: له پنځه زره (۵۰۰۰) افغانۍ څخه تر پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانۍ پورې.
- دويمه کټګوري: له پنځه سوه زره او يو(۵۰۰۰۰۱) څخه تر يو ميليون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانۍ پورې مبلغونه رانغاړي.

6- **کتگوری تمویلات خُرد:**

- کتگوری اول: شامل مبالغ 5,000 (پنج هزار) افغانی الی پنجصد هزار (500،000) افغانی می باشد.
- کتگوری دوم: شامل مبالغ 500,001 (پنجصد هزار یک) الی 1،000،000 (یک میلیون) افغانی می باشد.

7- **واړه تشبثات( کسب او کار) لمړۍ کټګوري: هغه کسبونه او يا کارونه دي چې کارکونکي يې لاندې ځانګړتياوې ولري:**

- دسوداګرۍ او صنعت يا د اقتصاد له وزارتونو څخه د جواز په اخيستلو مکلف نه وي؛
- دکارکونکو شمېر يې ۱ نه تر لسو ۱۰ نفرو پورې وي؛
- کولی شي چې صنفي جواز يا د ښاروالۍ جواز ولري؛
- د لاسي پلورونکي په توګه کار کولای شي؛

7- **تشبثات (کسب و کار) خُرد کتگوری اول: حرفه ها، فعالیت ها و فعالیت کنندگان که دارای مشخصات آتی باشند.**

- مکلف به اخذ جواز فعالیت از وزارت صنعت و تجارت یا وزارت اقتصاد نباشد.
- میتوانند جواز صنفی و سایر اجازه نامه های شاروالی را دارا باشند.
- تعداد کارمند/کارکنان آن از 1 الی 10 تن باشد.
- فعالیت آن میتواند سیار (دست فروش) باشد.

د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non-Banking Financial Institutions Supervision Directorate General
Da Afghanistan Bank

- دمالي صورت حساب په درلودلو مکلف نه وي.

8- **واړه تشبثات( کسب او کار) دوهمه کتګوري: هغه کسبونه او یا کارونه دي چې کارکونکي يې لاندې ځانګړتیاوي ولري:**
- دکارکونکو شمېر يې ۱ نه تر ۲۰ نفرو پورې وي؛
- کولای شي چې دسوداګرۍ او صنعت وزارت، ښاروالی او یا هم نورو اړونده ادارو څخه جواز ولری؛
- ثابت ځای (مکان) ولري؛

9- **تمویل اخیستوونکی:** هغه حقیقي یا حقوقي شخص ته ویل کېږي چې د وړو تمویلونو د اسلامی مالي خدماتو څخه په استفادي سره د خپل ذمت د تمویل او د هغې د ګټې فیصدی په ورکولو اړ دی.

10- **اړونده تمویل اخیستونکي:** دوه یا له دوو زیات اشخاصو (حقیقي یا حقوقي او یا دواړو) چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له یو بل سره اړوند وي. څرنګه چې:
- د هغوی هر یو مالي سلامتیا کولای شي د بل مالي سلامتیا اغیزمنه کړي.
- ورته عوامل کولای شي چې د ځینو او یا د ټولو مالي سلامتیا اغیزمنه کړي.

11- **مرسته کوونکی اداري:** هغه ملي او نړیوالو موسسو او ادارو ته وايي چې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول (د اسانتیا ورکوونکو ادارو له لارې) د وړو تشبثونو د مالي ملاتړ په موخه د وړو تمویلونو مالي موسسو سره مالي مرسته کوي.

12- **د مرستو اسانه (تسهیل) کوونکي اداري:** هغه دولتي او غیر دولتي ادارو ته وايي چې د وړو تمویلونو مالي موسسو او د مرسته کوونکو ترمنځ د منځګړي په توګه عمل کوي.

- مکلف به داشتن صورت حسابات مالی نباشد.

8- **تشبثات (کسب و کار) خُرد کتگوری دوم: حرفه ها، فعالیت ها و فعالیت کنندگان که دارای مشخصات ذیل باشند:**
- تعداد کارکنان آن از 1 الی 20 نفر باشد.
- میتواند از وزارت صنعت و تجارت، شاروالی و یا سایر ادارات ذیربط جواز فعالیت داشته باشد.
- مکان ثابت داشته باشد.

9- **تمویل گیرنده:** به شخص حقیقی یا حقوقی اطلاق می‌شود که از خدمات مالی اسلامی مؤسسات تمویلات مالی خُرد استفاده و به پرداخت تمویل ذمت خویش و فیصدی بهره آن مکلف است.

10- **تمویل گیرندگان مرتبط:** دو یا بیشتر از دو شخص (حقیقی یا حقوقی و یا هردو) که به بطور مستقیم یا غیر مستقیم با هم مرتبط باشند. طوریکه:
- سلامت مالی هریک از آنها می‌تواند سلامت مالی دیگری را متأثر کند.
- عوامل مشابه می‌تواند سلامت مالی بعضی یا تمام آنها را متأثر کند.

11- **نهاد های کمک کننده:** مؤسسات و نهاد های ملی و بین المللی که به مؤسسات تمویلات مالی خُرد به منظور حمایت مالی تشبثات خُرد بصورت مستقیم و یا غیر مستقیم (از طریق نهاد های تسهیل کننده) کمک مالی و یا سایر کمک ها می نمایند.

12- **نهاد های تسهیل کننده کمک ها:** نهاد های دولتی و غیر دولتی که بین مؤسسات تمویلات مالی خُرد و نهاد های کمک کنند منحیث میانجی عمل می نمایند.

د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

13- **د ورو تمویلونو د مالي موسسو تمویلوونکي:** اشخاص، ملی او نړیوال سازمانونه، بانکونو، دولتي او غیر دولتي اداري یا شرکتونه او انجمنونو چې د ورو تمویلونو مالي مؤسسې د یو لړ شرایطو په پام کې نیولو سره تمویلوي.

14- **ښه اداري جوړښت (Corporate Governance):** تړونونه، اقدامات، طرزالعملونه، میتودونه او مقرراتو ته ویل کیږي چې د ورو تمویلونو مالي مؤسسو حساب ورکوني، روڼتیا، دوامداره فعالیت او نور اړوند فعالیتونه لپاره کارول کیږي. په دې کې د څار پلاوي، د عامل پلاوي، شرعي مشاور او د تفتیش کمیټې جوړښت او دندې شاملې دي.

15- **تضمین:** هغه مالونه (منقول/غیرمنقول) دي چې تمویل اخیستوونکي یې د تمویل خوندي کولو لپاره تمویل ورکوونکي ته برابروي. د هغو حالاتو لپاره چې‌تمویل اخیستوونکی د ژمن شي قسطونه ور نشي کولای، ،

16- **منقول مال:** هغه مال دی چې لېږد یې له تجزیې، د ماهیت بدلون او بڼې بدلون پرته ممکن وي او عیني (توکي) او غیر عیني (د مالکیت اسناد، د چاپ او خپرولو او داسې نورو حق) رانغاړي.

17- **غیر منقول مال:** هغه مال ته وایي چې لېږد یې د تجزیې او د بڼې له بدلون پرته ممکن نه وي.

18- **د منقولو مالونو رهن:** د پور اخیستونکي لخوا د تضمین په توګه د منقولو شتمنیو سپارلو ته وایي، په کوم ډول چې پور ورکوونکی د شتمنۍ مالکیت په واک کې لري او هغه شتمنۍ هم د هغه په تصرف کې ده. تمویل ورکوونکی کولای شي د تضمین ملکیت واخلي

13- **تمویل کننده مؤسسات تمویلات مالی خُرد:** عبارت اند از اشخاص و سازمان های ملی و بین المللی، بانک ها، نهاد های دولتی و غیر دولتی یا شرکت ها و انجمن ها که برای مؤسسات تمویلات مالی خُرد با درنظرداشت یک سلسله شرایط، تمویل مورد نیاز شان و یا سایر کمک ها را فراهم می سازند.

14- **ساختار اداری خوب (Corporate Governance):** به توافقات، اقدامات، طرزالعمل ها، روش ها و مقررات که جهت پاسخگوی، شفافیت، عملکرد پایدار مؤسسات تمویلات مالی خُرد و سایر فعالیت های مرتبط را فراهم می سازند، اطلاق می گردد. بر علاوه شامل ساختار و وظایف هیئت نظار، هیئت عامل، مشاور شرعی و کمیته بررس می گردد.

15- **تضمین:** اموالی است (منقول/ غیر منقول) که تمویل گیرنده به تمویل دهنده جهت مصؤن ساختن تمویل فراهم می‌کند در حالاتیکه تمویل گیرنده پرداخت اقساط تعهد شده را پرداخت نتواند.

16- **مال منقول:** مال است که انتقال آن بدون تجزیه، تغیر ماهیت و تغیر ماکلیت ممکن بوده و شامل عینی (اجناس) و غیر عینی (اسناد مالکیت، حق طبع و نشر و غیره) میباشد.

17- **مال غیر منقول:** مال است که انتقال آن بدون تجزیه و تغیر شکل ممکن نیست.

18- **رهن اموال منقول:** عبارت از سپردن دارایی منقول منحیث تضمین توسط تمویل گیرنده است، به گونه که تمویل دهنده قبض دارایی را در اختیار داشته و آن دارایی نیز در تصرف وی می باشد.

د افغانستان بانک
Non-Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank
سال ۱۳۹۹

او د پاتې پیسو د نه ورکولو په صورت کې، د قانوني مراحلو څخه وروسته تضمین وپلوري.

19- **د غیر منقولو مالونو رهن:** د پور (تمویل) اخیستونکي لخوا د تضمین په توګه د غیر منقولو شتمنیو سپارلو ته وایي، په کوم ډول چې پور اخیستونکی د شتمنۍ مالکیت په واک کې لري.

20- **شرعي قباله:** هغه سند ته وایي چې د غیر منقول مال، د پېرودونکي او پلورونکي ځانګړنې ولري، پر مال د شخص مالکیت تثبیت کړي او په دولتي ادارو او اړونده محکمه کې طی مراحل او ثبت شوې وي.

21- **عرفي قباله:** هغه سند دی چې د غیر منقول مال د پېرودونکي او پلورونکي ځانګړنې ولري، د محل یا سیمې په کچه د غیر منقول مال د ملکیت د تثبیت لپاره کارول شوی وي او په دولتي ادارو کې ثبت نه وي.

22- **بیع جایزي:** د تمویل اخیستونکي لخوا د تمویل تر تصفیې پورې په قانوني ډول تمویل ورکونکي ته د تضمین د مالکیت د حق لندمهاله لیږد دی. د تمویل اخیستونکي د ناتوانۍ (Default) په صورت کې، تمویل ورکونکی کولای شي چې د قضایي پروسې له لارې تضمین وپلوري.

23- **صعب الحصوله شتمني:** هغه شتمنۍ دي چې تر معیار لاندې، شکمنې او د زیان په کټګورۍ کې راغلې وي.

24- **د ترلاسه کېدو وړ شتمني:** هغه شتمني یا تضمین دی چې د تمویل اخیستونکي د ناتوانۍ (Default) په صورت کې، تمویل ورکونکی د

19- **رهن اموال غیر منقول:** عبارت از سپردن دارایی غیر منقول منحیث تضمین توسط تمویل گیرنده است، بگونه که تمویل گیرنده مالکیت دارایی را در اختیار دارد و تمویل دهنده میتواند مالکیت تضمین را تصاحب و در صورت عدم پرداخت مبلغ باقی مانده، بعد از طی مراحل قانونی، تضمین را بفروش برساند.

20- **قباله شرعی:** عبارت از سند است که حاوی مشخصات مال غیر منقول، خریدار و فروشنده آن بوده، مالکیت شخص بر آن مال را تثبیت نموده و در ادارات حکومتی و محکمه مربوطه طی مراحل و ثبت شده باشد.

21- **قباله عرفی:** عبارت از سند است که حاوی مشخصات مال غیر منقول، خریدار و فروشنده آن بوده و در سطح محل یا منطقه جهت تثبیت ملکیت مال غیر منقول استفاده گردیده و در اداره حکومتی ثبت و یا ثبت نباشد.

22- **بیع جایزی:** انتقال مؤقت حق مالکیت به تمویل دهنده به طور قانونی تا هنگام تصفیه تمویل توسط تمویل گیرنده می‌باشد. در صورت نکول (Default) تمویل گیرنده، تمویل دهنده می‌تواند از طریق روند قضایی ملکیت را به فروش برساند.

23- **دارایی صعب الحصول:** دارایی است که در صنف تحت المعیار، مشکوک و ضرر قرار گرفته باشد.

24- **دارایی قابل تصرف:** دارایی است که در صورت عدم توانایی پرداخت تمویل گیرنده (افلاس)؛ تمویل دهنده مالکیت

د افغانستان بانک
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
سال ۱۳۹۹
Da Afghanistan Bank

قضايي پروسې له لارې د هغه مالکيت ترلاسه کولاې شي.

25- **پاى ته رسيدلي تمويلونه:** هغه تمويل دى چې په ټرون کې د هوکړه شوې بېرته ورکولو مودې وروسته، دېوې ورځې په تېربدو سره بېرته ورکړل شوي نه وي.

26- **د تمويلونو د زيان جبران:** هغه پيسې چې د وړو تمويلونو مالي مؤسسه ېي د تمويلونو د نه ادايني يا د نه ترلاسه کېدو وړ نورو حسابونو په صورت کې د احتمالي زيان د جبران لپاره په پام کې نيسي.

27- **بيا رغول شوى تمويل:** هغه تمويل ته وايي چې د مالي مؤسسې لخوا له تمويل اخيستونکي سره په تفاهم د وخت، د قسطونو د ورکړې او نورو شرطونو او ضوابطو له پلوه پلان شوي وي.

28- **شخص:** شخص کېداى شي حقيقي يا حکمي وي.

29- **ګټه:** د اسلامي خدمتونو د وړاندې کولو له کبله ترلاسه شوي عايد ته وايي چې د ګټې او فايدې مانا وړاندې کوي.

30- **عمومي ونډه وال:** شخص يا هغه اشخاص چې د وړو تمويلونکو مالي مؤسسه جوړوي او د امتياز څښتان وي.

31- **مالي مؤسسه:** هغه مالي مؤسسې، شرکتونه او نور اړوند نهادونه ته وايې چې دافغانستان بانک د قانون پربنسټ د مرکزي بانک (دافغانستان بانک) څخه د فعاليت جواز ترلاسه کړي او يا ترلاسه کوي.

32- **لومړى درجه اقارب:** پلار، مور، خور، ورور، زوى، لور مېره او مېرمن رانغاړي.

33- **مهم بستونه:** د نظار پلاوي غړي، عامل پلاوي غړي، لوى آمريتونه او مديريتونه.

آن را از طریق روند قضایی بدست آورده می تواند.

25- **تمویلات موعد گذشته:** تمویل که ظرف یک روز پس از مدت بازپرداخت توافق شده در قرارداد، بازپرداخت نشده باشد.

26- **جبران خساره تمویلات:** وجوهی که یک مؤسسه تمویلات مالی خُرد برای جبران ضرر احتمالی در صورت عدم پرداخت تمویلات یا سایر حسابات قابل دریافت در نظر می‌گیرد.

27- **تمویل بازسازی شده:** به تمویل گفته می‌شود که از لحاظ زمانی، پرداخت اقساط و سایر شرایط و ضوابط در تفاهم با تمویل گیرنده از طرف مؤسسه مالی، طوری برنامه ریزی شده باشد که در آن مبلغ تمویل ازدیاد نیابد.

28- **شخص:** شخص میتواند حقیقی یا حکمی باشد.

29- **مفاد:** عبارت از عاید حاصل شده از ارایه خدمات مالی اسلامی می باشد که معنی بهره و فایده را افاده می نماید.

30- **مجمع عمومی:** شخص یا اشخاصیکه مؤسسه تمویلات مالی خُرد را تاسیس می نمایند و صاحب امتیاز می باشند.

31- **مؤسسه مالی:** عبارت اند از مؤسسات مالی، شرکت ها و نهاد هایکه طبق قانون دافغانستان بانک از بانک مرکزی (دافغانستان بانک) جواز فعالیت دریافت نموده یا می نمایند.

32- **اقارب درجه اول:** شامل پدر، مادر، خواهر، برادر، پسر، دختر، شوهر وخانم، می باشند.

33- **بست های کلیدی:** شامل اعضای هیئت نظار، اعضای هیئت عامل، آمریت ها و مدیریت های عمومی می باشند.

دافغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

## دویم څپرکی
## د وړو تمویلونو مالي مؤسسو ایکو سیستم

**د وړو تمویلونو سکتور ځواب ورکوونکي، شفاف او باثباته ایکوسیستم رامنځته کول، ساتل او څارنه**

**پنځمه ماده:**

(1) ایکو سیستم کې لږترلږه لاندې موارد شامل دي:

1- د وړو تمویلونو مالي مؤسسی سره د پور اخیستونکي لخوا په ټاکل شوي تفاهم او شرایطو د پور او د پورد ګټی تادیه کولو کلتور

2- د وړو تمویلونو مالي مؤسسی اړ دي چی اسلامی مالي خدمات وړاندی کړي

3- د وړو تمویلونو مالي مؤسسی شبکه اړ دي چی مناسب شرایط او وضیعت ته په کتو د وړو تمویلاتو مالي خدمات په ملی سطحه، سمیه ایز او د ولایاتو په سطحه هیواد که وړاندی کړي. مناسب شرایط او وضیعت به د افغانستان بانک لخواه سکتور ته په کتو د متحدالمالونو په واسطه په پرله پسې ډول به په ګوته کیږی.

4- د وړو تمویلنو مالي مؤسسې مرسته کوونکې اداری او ګټه اخیستونکو د تمویل په برخه کې، روزنې او ظرفیت لوړونې، د اقتصادي فرصتونو په پیژندنه او ګټه اخیستنه، د پورونو تضمین، مدیریت معلوماتو او څارنې او د کوچنیو پورونو اړوند نورو فعالیتونو کې مرسته وکړي.

5- د وړو تمویلانو مالي مؤسسی تمویل کوونکي دي خپل تمویلات د تجارتی اصولو او

## فصل دوم
## ایکو سیستم سکتور تمویلات مالی خُرد

**ایجاد، حفظ و نظارت بر ایکو سیستم پاسخگو، شفاف و پایدار سکتور تمویلات مالی خُرد**

**ماده پنجم**

(1) ایکو سیستم حد اقل شامل موارد ذیل می باشد:

1- فرهنگ مکلفیت بازپرداخت تمویل توسط تمویل گیرنده تو ام با مفاد آن حسب تفاهم و شرایط با مؤسسه تمویلات مالی خُرد

2- مؤسسات تمویلات مالی خُرد مکلف اند خدمات مالی اسلامی را فراهم نمایند.

3- شبکه مؤسسات تمویلات مالی خُرد بادرنظرداشت شرایط معقول و مناسب به سطح ملی، ساحوی و در سطح ولایات، خدمات تمویلات مالی خُرد را در کشور فراهم نمایند. شرایط معقول و مناسب وقتاً فوقتاً بادرنظرداشت شرایط سکتور از طرف د افغانستان بانک ذریعه متحدالمال ها مشخص می گردد.

4- نهاد های کمک کننده مؤسسات تمویلات مالی خُرد، ذینفعان در خصوص تمویل، آموزش و ارتقاء ظرفیت، شناسائی و بهره برداری فرصت های اقتصادی، تضمینات اعتباری، معلومات مدریتی و نظارتی و سایر فعالیت های مرتبط به مؤسسات تمویلات مالی خُرد.

5- تمویل دهندگان که به مؤسسات تمویلات مالی خُرد تمویلات را طوری


د افغانستان بانک
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Da Afghanistan Bank

شرایطو سره په همغږي د دپور یا بلاعوض تمویل په ډول ورکوي.

(2) د افغانستان بانک د وړو تمویلونو مالی سکټور لپاره د ایکو سیستم پراختیا او اسانتیاوې برابروي او د مقرراتو له عمومي موخې سره سم د نویو بنسټونو د جوړولو او په سکتور کې د فعالو بنسټونو د فعالیتونو د تنظیم په اړه اړین اقدامات کوي.

(3) د افغانستان بانک مناسب اداري جوړښت د وړو تمویلونو د ایکوسیستم د یوې برخې په توګه وړاندې کوي او د دې موخې لپاره د افغانستان بانک کولی شي:

1- د وړو مالی تمویلونو سکتور ته د کورنیو او بهرنیو مرستو د جریان څارنه او د دې موخې لپاره د اړین میکانیزم رامنځته کول.

2- د ورکړل شوي وړو تمویلونو د مصؤنیت او ساتنې لپاره د ځانګړي مالي صندوق رامینځته کول د وړو مالي تمویلونو سکتور د مصؤنیت لپاره او پدې برخه کې د اړین میکانیزم رامینځته کول.

3- د وړو تمویلونو د ګټو په هکله د عامه پوهاوي لپاره اسانتیاوې، ملاتړ او د اړتیا په صورت کې اړین میکانیزمونو رامینځته کول.

4- د اقتصادي فرصتونو پیژندلو او ګټه اخیستنې په موخه د وزارت او نورو اړوندو دولتي او غیر دولتي ادارو سره همغږي ترڅو د وړو مالي تمویلونو د ګټه اخیستونکو لپاره په ځانګړي ډول د هغو بې وزلو لپاره چې ورته فعالیتونه د یوه ځنځیر په څیر ورته چمتو کیږي ګټور ووسي

قرض یا بلاعوض ویا مطابق سایر شرایط تجاری فراهم می نمایند.

(2) د افغانستان بانک ایکو سیستم را برای سکتور تمویلات مالی خُرد انکشاف و تسهیل نموده و اتخاذ اقدامات لازم در خصوص ایجاد مؤسسات جدید و تنظیم فعالیت های مؤسسات فعال در سکتور را مطابق هدف کُلی مقرره تنظیم می نماید.

(3) د افغانستان بانک ساختار اداری مناسب را به عنوان بخشی از ایکو سیستم تمویلات مالی خُرد تسهیل می نمایند و به این منظور د افغانستان بانک میتواند:

1- نظارت بر جریان وجوه داخلی و خارجی به سکتور تمویلات مالی خُرد و ایجاد میکانیزم لازم به این منظور.

2- ایجاد صندوق اختصاصی برای مصئونیت تمویلات مالی خُرد اعطاء شده غرض مصئونیت سکتور تمویلات مالی خُرد و ایجاد میکانیزم لازم در این عرصه.

3- تسهیل، حمایت و در صورت نیاز ایجاد میکانیز های لازم غرض آگاهی عامه در خصوص مزایای تمویلات مالی خُرد.

4- هماهنگی با وزارتخانه و سایر ادارات ذیربط دولتی و غیر دولتی بمنظور شناسائی و بهره برداری از فرصت های اقتصادی جهت منافع ذینفعان تمویلات مالی خُرد بخصوص برای فقرا که به شکل زنجیره ای چنین فعالیت ها برای شان فراهم می گردد.

## دريم څپرکی
## د جواز ورکولو شرطونه

### د غوښتنليک فورم ډکول

**شپږمه ماده:**

(1) هغه اشخاص چې د وړو تمويلونو مالي خدمتونه وړاندې کوي او يا د دا ډول خدمتونو د وړاندې کولو غوښتنه ولري، اړ دي څو د فعاليت له پيلېدو مخکې د دې مقررې له صراحت سره سم د جواز ترلاسه کولو لپاره د افغانستان بانک ته مراجعه وکړي.

(2) د جواز غوښتوونکی اړ دي چې د غوښتنليک فورمه په مرکز او ولايتونو کې د افغانستان بانک له دفترونو او يا د افغانستان بانک له انټرنيټي پاڼې څخه ترلاسه او ډکه کړي.

(3) د "وړو تمويلونو مالي مؤسسې" جواز غوښتوونکی اړ دی چې اړونده د ژمنې او شرطونو فورم له کره کتنې وروسته لاسليک کړي.

(4) غوښتنليک سره د اړوند حمايوی سندونو ورسته له تسليمولو د افغانستان بانک ته به د 60 ورځې په جريان که طی مراحل شئ، که چيرې کوم سند ناقص وی دافغانستان بانک به غوښتوونکی ته يو هفته مخکې اطلاع ورکړی

(5) غوښتونکی اړ دی چې يو جامع سوداگريز پلان چمتو کړي چې په کې چې د ونډه والو بشپړ توضيحات، د مؤسسې پانگه او سرچينې، د کوچنيو مالي تمويل عملياتو لپاره شته بوديجه، څنگه او چيرته د بوديجه تخصيص کول، د روزنيز پروگرامونه له لارې د کټې اخيستوونکی د پوهاوي او ظرفيت لوړولو ملاتړ ، ، عوايد د وړاندوينې ، د خطراتو اداره کول او د پراختيا او پايښت برنامې شامل وي همدارنگه سواگريز پلان اوږد مهاله سوداگريزې

## فصل سوم
## شرایط جواز دهی مؤسسات تمویلات مالی خُرد

### درخواستی اخذ جواز

**مادۀ ششم:**

(1) اشخاصیکه خدمات تمویلات مالی خُرد را ارائه مینمایند و یا تقاضای فراهم ساختن چنین خدمات را داشته باشند، مکلف اند تا قبل از آغاز فعالیت حسب صراحت این مقرره جهت دریافت جواز به د افغانستان بانک مراجعه نمایند.

(2) درخواست کننده مکلف است فورم درخواستی را در مرکز و ولایات از دفاتر دافغانستان بانک و یا از صفحه انترنتی دافغانستان بانک دریافت و خانه پوری نماید.

(3) درخواست کننده مکلف است فورم تعهد و شرایط "جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد " را بعد از مطالعه دقیق امضاء نماید.

(4) درخواستی های تکمیل شده تو ام با اسناد حمایوی آن بعد از تسلیمی به دافغانستان بانک طی 60 روز طی مراحل می گردد. در صورت ارائه اسناد ناقص، د افغانستان بانک متقاضی جواز را طی یک هفته جهت تکمیل اسناد، مطلع می سازد.

(5) متقاضی مکلف است پلان تجارتی جامع را که شامل جزئیات کامل سهمداران، سرمایه مؤسسه و منابع آن، وجوه موجود برای عملیات تامین مالی خُرد، چگونگی و محل تخصیص وجوه، حمایت ذینعفان بالوسیله برنامه های آگاهی دهی و ظرفیت سازی و آموزش، عواید قابل پیشبینی، نحوه مدیریت خطر (ریسک) و برنامه های توسعه و پایداری می باشد. همچنان پلان تجاری اهداف دراز مدت تجاری را که توسط ستراتیژی های جامع بازاریابی، عملیاتی،

دافغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

موخې چې د بازار موندنې، عملیاتي، تخنیکي او مالي چارو هراړخیزو ستراتیژیو لخوا یې ملاتړ کیږي، رانغاړي. د سوداګریز پلان د پوښښ لپاره لږ تر لږه ټاکل شوی وخت ۳ کاله دی. سربیره پردې، د مؤسسې اساسنامه، تشکیلاتي جوړښت، د څارنې پلاوی، اجرائیوي پلاوی او مهم پوستونه بیوګرافي وړاندې کړئ

(6) د وړو تمویلونو مالي موسسو جواز غوښتونکي اړ دي چې د ځانګړي سوداګریز نوم لاندې د یو مالي مؤسسې په توګه د سوداګرۍ او صنعت وزارت اړونده دفکرې مالکیتونو او ثبت مرکزي په ریاست کې ثبت شي.

## د تجارتي بانکوونو د وړو مالي تمویلونو بخش (دریچه)

### اوومه ماده:

(1) بانکونه اړ دي د وړو تمویلونو مالي خدمتونو وړاندې کولو په موخه له د افغانستان بانک څخه د نه اعتراض سند ترلاسه کړي او په دې موخه غوښتنلیک چې اړین معلومات او هغه سندونه چې د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د څارنې آمریت د جواز ورکولو مدیریت لخوا اړین وګڼل شي، وړاندې کړي.

(2) بانکونه اړ دي چې خپل د وړو تمویلونو د فعالیتونو په بخش کې دا مقرره پلې کړي

## د جواز ډول

### اتمه ماده

(1) د وړو مالي تمویلونو خدماتو ته د لاسرسي په موخه د ا فغانستان بانک کولی شي شرایطو ته په کتو دري ډوله جواز بالاترتیب د ولایتُ، زون او ملي سطحه باندې صادر کړي او هر جواز لرونکي دي خپل ټاکل شوی کاري ساحه کې فعالیت وکړي

(2) د وړو تمویلونو مالي مؤسسې اړ دي چې د ملي په سطحه ډیرې ولایتو کې چې حداقل دري زونُ وپوښي او د زون په سطحه د زون اړوند

تخنیکی و امور مالی حمایت میشود، در بر داشته باشد. حد اقل مدت زمانی که تحت پوشش پلان تجاری قرار گیرد ۳ سال میباشد. برعلاوه، اساسنامه مؤسسه، ساختار تشکیلاتی، سوانح هیئت نظار، هیئت عامل و بست های کلیدی را ارائه نمایند.

(6) در خواست کننده جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد مکلف است تحت نام مشخص به حیث یک مؤسسه تمویل مالی در وزارت صنعت و تجارت/ ریاست ثبت مالکیت های فکری، ثبت گردد.

## بخش (دریچه) مؤسسات تمویلات مالی خُرد بانک های تجارتی

### ماده هفتم

(1) بانکها مکلف اند بمنظور ارائه خدمات تمویلات مالی خُرد، سند عدم اعتراض را از د افغانستان بانک اخذ نمایند و به این منظور درخواستی حاوی معلومات لازم و اسناد که از طرف آمریت بانکداری و خدمات مالی اسلامی لازم دانسته شود، ارائه نمایند.

(2) بانک های تجارتی مکلف اند در خصوص فعالیت بخش (دریچه) تمویلات مالی خُرد خود طبق این مقرره عمل نمایند.

## نوعیت جواز

### ماده هشتم:

(1) به منظور دسترسی به خدمات تمویلات مالی خُرد، د افغانستان بانک سه نوع جواز را بالترتیب با درنظرداشت شرایط مناسب در سطح ولایت، زون و ملی صادر می نماید. هر یک از دارنده گان جواز در ساحه مشخص فعالیت می نمایند.

(2) مؤسسات تمویلات مالی خُرد مکلف اند به سطح ملی در اکثر ولایات حد اقل سه

د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

ټول ولایاتو کې د وړو تمویلونو خدمات وراندې کړي

(3) فعال موجوده د وړو تمویلونو مالي مؤسسې اړ دي چې ددې مقرره د وضاحت بر مبنا یو ډول جواز ترلاسه کړي

## د وړو تمویلونو مالي مؤسسې ونډه/سرمایه

### نهمه ماده:

(1) د جواز ډول ته په کتو د وړو تمویلونو مالي موسسې اړ دي چې حداقل په لاندې ډول سرمایه ولري

(2) د ټاکل شوي ولایت په سطحه د وړو تمویلونو مالي مؤسسې ۳،۵ میلیون افغانۍ

(3) د زون په سطحه د وړو تمویلونو مالي مؤسسې ۱۰ میلیون افغانۍ

(4) د ملي په سطحه د وړو تمویلونو مالي مؤسسې ۲۵ میلیون افغانۍ

(5) هغه بانکونه چې د وړو تمویلونو په مالي برخه کې فعالیت کوي، د دې مادې د (۱) فقرې له رعایتولو څخه مستثنی دي، خو بانکونه کولای شي د اړتیا له مخې د وړو تمویلونو مالي د برخې د تأمیناتو په موخه د اړتیا وړ پانګه ځانګړې کړي.

(6) د وړو تمویلونو مالي مؤسسې اړ دي چې د پانګې اړوند اړین سندونه د افغانستان بانک د غوښتنې او د دې مادې پربنسټ وړاندې کړي.

## فیسونه

### لسمه ماده:

(1) د افغانستان بانک کولای شي د فعالیت جواز د طی مراحل او صادرولو په موخه فیس واخلي؛

(2) وضع شوي فیسونو لاندې موارد رانغاړي:

1- د وړو تمویلونو مالي مؤسسې د جواز غوښتنلیک د طی مراحلو فیس؛ 50,000 پنځوس زره افغانۍ؛

زون و در سطح زون در تمام ولایات زون مربوط خدمات تمویلات مالی خُرد را فراهم سازند.

(3) مؤسسات تمویلات مالی خُرد فعال مکلف اند یک نوع جواز حسب تصریحات این مقرره، اخذ نمایند.

## سرمایهٔ مؤسسات تمویلات مالی خُرد

### مادهٔ نهم:

(1) باتوجه به نوعیت جواز، مؤسسات تمویلات مالی خُرد مکلف به داشتن حد اقل سرمایه قرار ذیل می باشند.:

(2) مؤسسات تمویلات مالی خُرد در سطح ولایت مشخص: 3,5 میلیون افغانی

(3) مؤسسات تمویلات مالی خُرد در سطح زون: 10 میلیون افغانی

(4) مؤسسات تمویلات مالی خُرد در سطح ملی: 25 میلیون افغانی.

(5) بانکهای که در عرصه تمویلات مالی خُرد فعالیت می نمایند، از رعایت فقره (1) این ماده مستثنی بوده اما بانک ها میتوانند حسب ضرورت، سرمایه مورد نیاز را غرض تآمین مالی بخش (دریچه) تمویلات مالی خُرد، اختصاص دهند.

(6) مؤسسات تمویل مالی خُرد مکلف اند اسناد لازم مرتبط به سرمایه را حسب مطالبه دافغانستان بانک طبق این ماده ارائه نمایند.

## فیس ها

### مادهٔ دهم:

(1) د افغانستان بانک در مقابل طی مراحل درخواستی و صدور جواز فعالیت می تواند فیس اخذ نماید.

(2) فیس های وضع شده قرار ذیل می باشد:

1- فیس طی مراحل درخواستی جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد مبلغ 50,000 پنجاه هزار افغانی.

د افغانستان بانک
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
سال ۱۳۹۹
Da Afghanistan Bank

2- د مثنی جواز د صادرولو فیس 25,000 پنځه ویش زره افغانۍ؛

3- د امتیاز مالک د بدلون او د مالکیت د لېږد غوښتنلیک د طی مراحلو فیس؛ 50,000 پنځوس زره افغانۍ؛

4- د انحلال (منحلېدو) او سوداګریز نوم د بدلولو د غوښتنلیک طی مراحلو فیس؛ 25,000 پنځه ویش زره افغانۍ؛

5- د ساحې دننه څارنې کلنی فیس 50,000 پنځوس زره افغانۍ؛ د ورو تمویلونو مالي مؤسسه اړ ده چې دا فیس د څارنیز راپور له ترلاسه کولو وروسته اداء کړي.

(3) د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوي فیسونه بیرته د بیا ورکړې وړ نه دي؛

(4) د ورو تمویلونو مالي مؤسسې جواز د ۳ کلونو لپاره صادرېږي

(5) په ۱۰ ماده کې درج شوي فیسونه د ارتیا په صورت کې تعدیلیږي او نور فیسونه هم د افغانستان بانک لخوا د متحدالمالونو له لارې مشخص او ټاکل کېدای شي.

(6) د عدم اعتراض د سند فیس کیدای شي چې په بانکونو باندې د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو دآمریت دکړنلارو (طرزالعمل) او متحدالمالونو مطابق تطبیق شي.

## پالیسی ګانې

### یولسمه ماده:

د ورو تمویلونو مالي مؤسسې جواز غوښتونکې د لاندې پالیسیو په وړاندې کولو اړ دي او همدارنګه هغه بانکونه چې د ورو مالي تمویلونو په برخه کې فعالیت لري، د هغوی داخلي پالیسی ګانې باید لږ تر لږه د ورو مالي تمویلونو د مدیریت، کنټرول او خطرونو کموالي د څرنګوالي په برخه کې اړین بحثونه راونغاړي:

1- د تمویلونو (اعتباري/پورونو) پالیسي.

2- د تضمیناتو پالیسي.

3- د خطرونو مدیریت پالیسي.

4- عملیاتي پالیسي.

2- فیس صدور جواز مثنی 25,000 بیست و پنج هزار افغانی.

3- فیس طی مراحل درخواستی تغییر صاحب امتیاز، انتقال مالکیت مبلغ 50,000 پنجاه هزار افغانی.

4- فیس طی مراحل درخواستی انحلال و تغییر اسم تجارتی مبلغ 25,000 بیست و پنج هزار افغانی.

5- فیس نظارت داخل ساحه سالانه مبلغ 50,000 پنجاه هزار افغانی مؤسسه تمویلات مالی خُرد مکلف است این فیس را بعد از دریافت گزارش نظارتی پرداخت نماید.

(3) فیس های مندرج فقره (2) این ماده قابل بازپرداخت نمی باشند.

(4) جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد برای 3 سال صادر میگردد

(5) فیس های مندرج ماده (10) حسب لزوم دید تعدیل و سایر فیس ها نیز از جانب دافغانستان بانک ذریعه متحد المال ها مشخص و تعیین شده می تواند.

(6) فیس جواز (سند عدم اعتراض) بالای بانک ها میتواند حسب طرزالعمل ها و متحدالمال های آمریت بانکداری و خدمات مالی اسلامی تطبیق گردد.

## پالیسی ها

### مادۀ یازدهم:

درخواست کننده جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد مکلف به ارائه پالیسی های ذیل می باشد و بانک های که در عرصه تمویلات مالی خُرد فعالیت دارند، پالیسی های داخلی آنها حد اقل مباحث لازم در خصوص چگونگی مدیریت، کنترول و کاهش خطرات تمویلات مالی خُرد را شامل گردد:

1- پالیسی تمویلات.

2- پالیسی تضمینات.

3- پالیسی مدیریت خطرات.

4- پالسی عملیاتی.

5-	د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې پالیسي.
6-	د پېرودونکي د خوندي ساتنې پالیسي.
7-	د بشري سرچینو پالیسي.
8-	د داخلي پلټنې پالیسي.
9-	اخلاقي کوډ.
10-	د مالي او حسابدارۍ پالیسي.
11-	د شخړو د حل پالیسي.
12-	د معلوماتي ټکنالوژۍ پالیسي او نورې د اړتیا وړ پالیسګانې.

## بهرنیو اشخاصو ته د وړو تمویلونو مالي مؤسسې د جواز ورکولو شرطونه

### دولسمه ماده:

بهرنۍ مؤسسې او شرکتونه چې غواړي د وړو تمویلونو مالي خدمات په افغانستان کې وړاندې کړي کولی شي چې د جواز ترلاسه کولو په موخه د افغانستان بانک ته ددې مقررې پر بنسټ غوښتنلیک وړاندې کړي

په ۶ ماده کې له درج شوو سندونو برسېره لاندې شرطونه او سندونه هم بشپړ کړي:

1-	غوښتونکې مؤسسه اړ ده چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت اړونده فکري مالکیتونو د ثبت په رياست / او یا نورو اړونده ادارو کې ثبت شي؛
2-	په افغانستان کې د وړو تمویلونو مالي مؤسسې د تأسیس او تائید په اړه د مورنۍ شرکت (متبوع شرکت) د څار پلاوي تصویب وړاندې کړي؛
3-	نور معلومات، شرایط او سندونه د اړتیا په صورت کې د افغانستان بانک لخوا غوښتل کېدای شي.

5-	پالیسی مبارزه با پولشویی و تمویل تروریزم.
6-	پالیسی حفاظت از مشتری.
7-	پالیسی منابع بشری.
8-	پالیسی تفتیش داخلی.
9-	کود اخلاق.
10- پالیسی مالی و حسابداری.
11- پالیسی حل منازعات.
12- پالیسی تکنالوژی معلوماتی و سایر پالیسی‌های مورد ضرورت.

## شرایط صدور جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد به اشخاص خارجی

### مادهٔ دوازدهم:

مؤسسات و شرکت های خارجی میتوانند بمنظور اخذ جواز فعالیت تمویلات مالی خُرد در افغانستان حسب صراحت این مقرره به د افغانستان بانک درخواستی ارائه نمایند.

اشخاص متقاضی خارجی مکلف اند تا برعلاوه اسناد مندرج ماده 6 این مقرره، شرایط و اسناد ذیل را نیز تکمیل نمایند:

1-	مؤسسه متقاضی مکلف است در اداره ثبت مالکیت های فکری/ وزارت صنعت و تجارت کشور و یا اداره ذیربط ثبت گردد.
2-	ارائه تصویب هیئت نظارشرکت مادر (شرکت متبوع) مبنی بر تائید ایجاد مؤسسه تمویلات مالی خُرد در افغانستان.
3-	سایر معلومات، شرایط و اسناد حسب لزوم دید د افغانستان بانک مطالبه شده میتواند.

د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate General
Da Afghanistan Bank

## د مالکیت/ د جواز د امتیاز لیږد

### دیارلسمه ماده:

(1) هیڅ شخص نشي کولاې چې د افغانستان بانک له مخکینۍ منظورۍ پرته د خپل جواز مالکیت بل شخص ته ولیږدوي.

(2) هغه شخص چې د وړو تمویلونو مالي مؤسسې د مالکیت د بدلون غوښتونکی وي، اړ دی چې د مالکیت د لیږد او بدلون غوښتنلیک د منظوري اخیستلو لپاره په مرکز کې د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي موسسو د څارنې لوی آمریت او ولایتونو کې د افغانستان بانک څانګو ته تسلیم کړي.

(3) مالک یا د هغوی واک لرونکی استازی چې د امتیاز د ترلاسه کولو یا پلورلو غوښتونکی وي، د غوښتنلیک د طی مراحلو لپاره په کابل کې د غیر بانکي مالي موسسو د څارنې لوی آمریت، سیمه ایزو زونونو او په ولایتونو کې د افغانستان بانک څانګو ته ورشي او لاندې معلومات او مدرکونه د بدلون او مالکیت د لیږد له غوښتنلیک سره وړاندې کړي.

1 - د سپارلو دلیلونو او څرنګوالي په ذکر کولو سره د غوښتنلیک وړاندې کول؛

2 - د جواز مالکیت ترلاسه کوونکی د پیسو زیرمو اثباتیه اسنادو وړاندی کول

3 - له اړوندې مرجع څخه د تعدیل شوې اساسنامې تائیدول؛

4 - د مالیاتو د نه باقیدارۍ د تصدیق وړاندې کول؛

5 - د مؤسسی موجوده مالي وضیعت حسابونه او راپور

6 - د جنایي او مالي جرم د نه مسؤلیت د تصدیق برابرول؛

7 - د فعالیت اصلي جواز او د افغانستان بانک د غوښتنې سره سم نور معلومات او مدرکونه.

(4) غوښتوونکی اړ دی، څو د وړو تمویلونو مالي مؤسسې د مالکیت بدلون او د مالکیت لیږد په اړ خبرتیا په یو ځایي ورځپانه کې خپره کړي

## انتقال مالکیت/امتیاز جواز

### مادۀ سیزدهم:

(1) دارندگان جواز نمی تواند بدون منظوری قبلی د افغانستان بانک مالکیت جواز خویش را به شخص دیگر انتقال دهد.

(2) دارندگان جواز که خواهان تغییر مالکیت جواز مؤسسه تمویلات مالی خُرد میباشد، مکلف است درخواستی تغییر، انتقال مالکیت را جهت اخذ منظوری د افغانستان بانک به آمریت عمومی نظارت از مؤسسه مالی غیر بانکی در مرکز و یا در ولایات به نمایندگی د افغانستان بانک تسلیم نماید.

(3) مالک یا نماینده صلاحیتدار آنها جهت طی مراحل درخواستی به آمریت عمومی نظارت از مؤسسه مالی غیر بانکی در کابل، زون های ساحوی و نماینده‌گی های د افغانستان بانک در ولایات حضور یافته و مدارک و معلومات آتی را همراه با درخواستی ارائه نماید:

-1 ارائه درخواستی در خصوص چگونگی و دلایل واگذاری.

-2 ارائه اسناد حمایوی بابت منبع پول توسط دریافت کننده مالکیت جواز

-3 تاییدی اساسنامه تعدیل شده از مرجع مربوطه.

-4 ارائه تصدیق عدم باقیداری مالیاتی.

-5 فراهم سازی تصدیق عدم مسوولیت جرم جنایی و مالی.

-6 ارائه وضعیت فعلی صورت حساب مالی مؤسسه

-7 اصل جواز فعالیت؛ و سایر معلومات و مدارک طبق لزوم دید د افغانستان بانک.

(4) درخواست دهنده مکلف است تا اطلاعیه را در مورد تغییر مالکیت، انتقال مالکیت مؤسسه تمویلات مالی

او يو نقل يې د افغانستان بانک ته وړاندې کړي.

(5) د افغانستان بانک په هغه حالت کې د مالکيت لېږد غوښتنليک منظورولی چې نوی شخص له دې مقررې سره سم ټول معيارونه او شرايط پوره کړي.

## د شرکت لمنځه تلل ( انحلال)

### څوارلسمه ماده:

(1) هر کله چې د وړو تمويلونو مالي مؤسسې ونډه وال/ونډه لرونکي يا واک لرونکی استازی (شرعي وکيل) وغواړي مالي مؤسسه منحل کړي، د منحلېدو (د فعاليت پرېښودلو) غوښتنليک په ليکلي بڼه د ځانګړو فورمو په بشپړولو سره په مرکز کې د غېر بانکي مالي موسسو د څارنې لوی آمريت د جواز ورکونې مديريت او په ولايتونو کې د افغانستان بانک څانګو ته وسپاري.

(2) د افغانستان بانک لخواه د انحلال غوښتنليک د طی مراحلول څخه وړاندې د مؤسسې مسولين اړ دي چې په اړه خبرتيا په يو ځايي او يا ملی ورځپاڼه کې خپره کړي، نظريات را ټول او د يو مياشت په موده کې د افغانستان بانک ته وړاندې کړي.

(3) د وړو تمويلونو مالي مؤسسې د امتياز د مالک او واک لرونکی استازي لخوا د انحلال (د فعاليت پرېښودلو) د غوښتنې په صورت کې له غوښتنليک برسېره د لاندې سندونو او معلوماتو پر وړاندی کولو اړ دي:

1- د مالي مؤسسې د منحلولو دلايل وړاندی کول؛

2- د انحلال (وتل) په پلان کی لاندی موارد شامليږی خو دې ته محدودی نه دي

خُرد در يکی از جرايد محل فعاليت خويش به نشر سپرده و يک نقل آن را به د افغانستان بانک ارائه نمايد. اطلاعيه تغير مالکيت و يا انتقال مالکيت حد اقل يک ماه به اعلان سپرده شود. در خواست کنندگان ميتوانند انتقادات خود را به د افغانستان بانک ارائه نمايند.

(5) دافغانستان بانک در صورت درخواستی انتقال مالکيت را منظور مينمايد که شخص جديد تمام معيار ها را طبق اين مقرره تکميل نمايد.

## انحلال مؤسسه

### مادۀ چهاردهم:

(1) هرگاه صاحب امتياز يا نماينده با صلاحيت (وکيل شرعی) مؤسسه تمويلات مالی خُرد بخواهد مؤسسه مالی را منحل نمايد، درخواستی انحلال (ترک فعاليت) بصورت کتبی با تکميل فورمه های اختصاصی مديريت جوازدهی آمريت عمومی نظارت از مؤسسه مالی غير بانکی در مرکز و نمايندگی های د افغانستان بانک در ولايات، صورت ميگيرد.

(2) قبل از طی مراحل اسناد انحلال توسط د افغانستان بانک، اشخاص مربوط مکلف است که اطلائيه را از طريق اخبار و رسانه های محلی و ملی به نشر رسانند و ملاحظات را جمع آوری و طی يک ماه به د افغانستان بانک ارائه نمايد.

(3) در صورت تقاضای انحلال (ترک فعاليت) از طرف صاحب امتياز و نماينده با صلاحيت مؤسسه تمويلات مالی خُرد، برعلاوه درخواستی، مکلف به ارائه اسناد و معلومات ذيل نيز ميباشد:

1- ارائه دلايل انحلال.

2- ارائه پلان خروج شامل موارد آتی بوده، اما محدود به اينها نمی باشد:

د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹
Non-banking Financial Institutions Supervision Directorate
Da Afghanistan Bank

- مؤسسی خپل موجوده د تمویلاتو بکسي (حجم) ته ځنګه رسیدګی کوي
- مؤسسي د خپل پاتی تمویلاتو، پورونو او دارایی ته ځنګه رسیدګی کوی
- د پېرودونکو د حسابونو تصفیه کول؛

3- د فعالیت د اصلي جواز تسلیمول؛

4- د مالیاتو د نه باقیدارئ د تصدیق وړاندې کول؛

5- د جنايي او مالي جرم د نه شتون تصدیق برابرول؛

